**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د پوښتنې ځواب

## د غزې ويجاړوونکې جګړې په اړو خبرو اترو څخه څه تمه کېدای شي؟

**پوښتنه:**

پر غزې د يهودو له تېري تر لسو ډېرې مياشتې وشوې خو په دغې ويجاړوونکې جګړه کې وژنې لا هم روانې دي. بلخوا د دغو بريدونو د درولو لپاره ځينې خبرې اترې او هوکړې د کېدو په حال کې دي؛ خو اسرايلو دا هوکړې رد کړي او ان د صلاح‌الدين محور له پرېښودو ډډه کوي، په داسې حال کې چې مصر هغه خپله سره کرښه بولي. (سرچينه: العربيه؛ ۳/۹/۲۰۲۴) د بايډن دولت هم پر دغو وژنو څار کوي؛ خبرې اترې يې تر نظر لاندې دي او ادعا کوي چې حللاره له خبرو اترو پيدا کېږي؛ خو په ورته وخت کې وژنې هماغسې روانې دي. د دغې ويجاړوونکې جګړې په اړه خبرو اترو څخه څه تمې کېدای شي؟ له دغه تېري څخه په ملاتړ کې د امريکا ونډه څه ده؟ ايا امريکا په جدي توګه د دوو دولتونو حللارې ته ژمنه ده؟ څنګه دا تېرى درولی او فلسطين يې بېرته خپلو خلکو ته ورګرځولی شو؟ وبښئ چې پوښتنه اوږده شوه.

**ځواب:**

### د پورتنيو پوښتنو د ځوابونو روښانولو لپاره لاندې ټکي څېړو:

**لومړى:** د دغې ويجاړوونکې جګړې په اړه خبرې اترې، پايلې يې او په دې برخه کې د امريکا ونډه:

۱. موږ د هغې پوښتنې په ځواب کې چې په ۲۲/۳/۲۰۲۴ نېټه خپور شو، وويل چې د غزې پر وړاندې د اسرايلو جګړه په رېښتينې معنى يوه ويجاړوونکې جګړه ده. دا جګړه د غرب، که امريکا ده او که اروپايي هيوادونه، په ملاتړ وهڅول شوه. غربي رهبرانو اسرايلو ته سفرونه وکړل چې د غزې پر وړاندې جګړه کې له اسرايلو خپل بشپړ ملاتړ وښيي. دغه راز د عرب او اسلامي دولتونو چوپتيا هم له اسرايلو سره مرسته وکړه. د دې پر ځای چې پوځونه د غزې مرستې ته ور ودانګي، ځينو دغو هيوادونو د مجاهدينو بريدونه وغندل او له اسرايلو سره يې خپلو اړيکو ته دوام ورکړ؛ لکه هيڅ چې نه وي شوي. هغو هيوادونو چې پخوا يا تازه يې له اسرايلو سره خپلې اړيکې عادي کړې وې، دغه بهير ته يې دوام ورکړ او يوه يې هم نه له اسرايلو سره خپلې اړيکې پرې کړې او نه يې تړونونه او معاهدې – لکه له مصر سره کمپ ډېويډ او له اردن سره وادي عربه معاهدې- ورسره لغوه کړې.

په دې توګه نتنياهو د لا وحشيانه بريدونو جرات پيدا کړ. د ۲۰۲۴م کال د اپريل په لومړۍ نېټه اسرايلو په دمشق کې د ايران سفارت په مجتمع کې د کنسولګرۍ پر ودانۍ هوايي بريدونه وکړل. اسرايلو پر دغه بريد بسنه ونه کړه او د ايران او حزب‌الله سپکاوي ته يې دوام ورکړ. د جولای ۳۰مې په ماښام يې د لبنان پر پلازمېنه، بيروت هوايي بريد وکړ چې موخه يې د حزب‌الله يو لوړپوړی قوماندان، فواد شکر و. يوه ورځ وروسته، د جولای په ۳۱مه يې د ايران په زړه، تهران کې عمليات وکړل چې موخه يې د حماس مشر، اسماعيل هنيه و. دا بريدونه په داسې حال کې وشول چې هيچا يې پر وړاندې غبرګون ونه ښود.

۲. بیا امریکا د ابتکاراتو د وړاندې کولو اقدام وکړ او چارواکو یې سفرونه پیل کړل چې د غزې د ملاتړ لپاره د اسلامي خاورو، په ځانګړې ډول د فلسطین ګاونډیو، د پوځونو د غبرګون مخه ونیسي. موخه دا وه چې په فلسطین کې د اسرایلو وژنو ته زمینه برابره کړي. د بېلګې په توګه په ۳۱/۵/۲۰۲۴ نېټه د بایډن کمزوری ابتکار او په ۱۰/٦/۲۰۲۴ نېټه د امریکا تر ملاتړ لاندې امنیت شورا پرېکړه د دغو هڅو بېلګې دي. امریکا دغه راز ښکېل اړخونه د خبرو اترو، په سفرونو کې تعدیل او بدلونونو لپاره په تګ راتګ بوخت کړل؛ موخه یې دا وه چې د مسلمانانو د خاورو نادانه او بې کفایته حکام د غزې له ملاتړه منحرف کړي او د جګړې د پراخېدو د مخنیوي لپاره پلمه راوړي چې د سترګو پر وړاندې یې وژنې دوام وکړي.

په ورته وخت کې، امریکا په بشپړ ډول د اسرایلو له تېرو ملاتړ کړی او وژنې یې توجیه کوي؛ د دې ترڅنګ ډول ډول وسلې ورکوي. مثلاً؛ په ۱۳/۸/۲۰۲۴ نېټه امریکا پر اسرایلو د ۲۰ ملیارده ډالرو په ارزښت وژونکو وسلو له پلور سره خپل موافقت اعلان کړ. د صهیونیستي رژیم لومړي وزیر، نتنیاهو د بري احساس وکړ او دا یې د خپلو سختو دریځونو بشپړ تایید وګاڼه او دا چې امریکا به د اسرایلو د ملاتړ او هغو ته د وسلو د لېږد مخه ونه نیسي.

۳. دا هماغه څه دي چې بایډن یې خپل د بهرنیو چارو وزیر، بلینکن د صهیونیستي رژیم د بریدونو له پیل وروسته نهم سفر لپاره ولېږه. په بله ورځ، ۱۹/۸/۲۰۲۴ نېټه بلینکن د صهیونیستي رژیم له لومړي وزیر، نتنیاهو سره وکتل او په فریب او دوکه یې وویل: «متحده ایالاتو په وار وار اعلان کړې چې د غزې هیڅ ډول (اسرایلي) اوږدمهاله اشغال نه مني.» دا خبره مبهمه ده او «اوږدمهاله» وخت مشخص نه دی. هغه خپل فریب ته دوام ورکړ او ویې ویل: «نتنیاهو امریکایي وړاندیز منلی چې موخه یې د تېرې اونۍ خبرو اترو –چې امریکا له قطر او مصر سره په دوحه کې پیل کړې وې- له درېدو وروسته د دواړو اړخونو ترمنځ د واټن کمول دي. بلینکن همداراز له نتنیاهو وغوښتل چې پر حماس فشار راوړي چې دا وړاندیز ومني.» (سرچینه: رویترز؛ ۱۹/۸/۲۰۲۴)

نیویارک ټایمز په ۲۰/۸/۲۰۲۴ نېټه له خبرو اترو باخبرو چارواکو په حواله راپور ورکړ: «د امریکا نوی وړاندیز (صهیونیستي) ځواکونو ته اجازه ورکوي چې د غزې او مصر ترمنځ پولې په اوږدو، فیلاډلفیا لارې په یوه برخه کې خپلو ګزمو ته دوام ورکړي.»

۴. سپینې ماڼۍ اعلان وکړ چې ولسمشر بایډن د ۲۱/۸/۲۰۲۴ نېټې په ماښام له نتنیاهو سره ټلیفوني خبرې وکړې: «بایډن او نتنیاهو د امریکا د دفاعي نظامي شتون په اړه وغږېدل؛ د ایران او ترهګرو ډلو لکه حماس، حزب‌الله او حوثیانو پر وړاندې د «صهیونیستي رژیم» د ملاتړ لپاره د امریکا پر هڅو خبرې اترې وکړې.» (سرچینه: مونټ کارلو؛ ۲۲/۸/۲۰۲۴) دغه راز یوه امریکایي چارواکي له دغې ټلیفوني اړیکې وړاندې وویل چې بایډن له نتنیاهو تمه لري چې د مصر او غزې ترمنځ پولې په اوږدو، فیلاډلفیا کې د صهیونیستي رژیم د ځواکونو ساتلو لپاره نوې غوښتنه کمه کړي. نتنیاهو له دغه محور څخه، چې د صلاح الدین لارې په نامه مشهوره ده، له وتلو ډډه کوي. دا محور شاوخوا ۱۴ کیلومتره اوږد دی او په ځینو سیمو کې شاوخوا ۱۰۰ متره عرض لري. مصر وایي چې پر دغې سیمه د صهیونیستي رژیم کنټرول د کمپ ډیوډ شرمناکې معاهدې نقض دی چې په ۱۹۷۹ کې د امریکا تر نظر لاندې لاسلیک شوې وه او له دغې سیمې د صهیونیستي رژیم د وتلو غوښتنه پکې شوې.

صهیونیستي رژیم په تېره مې میاشت کې دا سیمه ونیوله. د امریکا دغه دریځ د دې سبب شو چې د امریکا نازولی زوی، نتنیاهو متوجه شي چې د امریکا خبرې نمایشي دي او ریښتینی اقدام نه کوي. ځکه چې صهیونیستي رژیم د امریکا په اقتصادي مرستو، نظامي تجهیزاتو پورې تړلی او که امریکا جدي وای، صهیونیستي رژیم له کوم اقدام پرته فشارونو ته غبرګون ښود.

۵. په قاهره کې خبرې اترې له ۲۴/۸/۲۰۲۴ نېټې پیل شوې چې د سي آی اې مدیر، ویلیم برنز؛ د قطر لومړي وزیر او د بهرنیو چارو وزیر؛ د صهیونیستي رژیم پلاوي او مصري پلاوي ګډون پکې کړی و. د حماس پلاوی هم پکې و چې مستقیم ګډون یې ونه کړ. رسمي پلاوو له صلاح‌الدین محور څخه له وتلو سره د نتنیاهو لېوالتیا نه لرلو په سبب په ۲۵/۸/۲۰۲۴ نېټه قاهره له کوم توافق پرته پرېښوده.

انادولو خبري اژانس په ۲۵/۸/۲۰۲۴ نېټه د حماس د یوه لوړپوړي چارواکي، چې نه یې غوښتل نوم یې افشا شي، په حواله راپور ورکړ: «حماس د اوربند هغه وړاندیز ته ژمن نه دی چې بایډن اعلان کړ او امنیت شورا تایید کړی دی.» هغه زیاته کړه: «حماس د هغو مسایلو پلي کولو ته تیار دی چې د جولای په ۲مه توافق پرې شوی و». خو نتنیاهو تر هغې چې د امریکا د ټاکنو پایلې مشخصېږي، له هر ډول توافق لاسلیک کولو ډډه کوي. هغه له جمهوري غوښتونکو سره د اړیکې ټینګولو په حال کې دی؛ ځکه چې یهودو یې د بایډن او ډیموکراټانو په پرتله د ډېر ملاتړ ژمنه کړې ده. نتنیاهو د ۲۰۲۴م کال د جولای په ۲٦مه په واشنګټن کې له ټرمپ سره ولیدل او د ټرمپ او په کانګرس کې جمهوري غوښتونکو له بشپړ ملاتړ سره مخ شو. په کانګرس کې د هغه د ۵۳ دقیقو خبرو په جریان کې، جمهوري غوښتونکو هغه پرلپسې وهڅاوه. نتنیاهو هیله لري چې د ټرمپ – چې د بشپړ ملاتړ ژمنه یې کړې او د دوو دولتونو له نظریې یې صرف نظر کړی- په راتلو به سعودي ته له صهیونیستي رژیم سره د اړیکو عادي کولو امر وشي او ورپسې به نور هیوادونه هم له دغه رژیم سره خپلې اړیکې عادي کړي. نو اټکل کېږي چې نتنیاهو به د امریکا د ټاکنو د پایلو تر مشخصېدو پورې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

٦. د امریکا د ټاکنو د پایلو تر مشخصېدو د نتنیاهو ځنډ او سختګیری د هغه له هغو خبرو لیدلی شو چې العربیه د هغه له تلویزیوني مطبوعاتي کنفرانس څخه په ۳/۹/۲۰۲۴ نېټه نقل کړې دي. نتنیاهو وویل: «په دغې ځانګړې جګړه کې موږ ځان ته څلور موخې ټاکلې: د حماس له منځه وړل، د ټولو برمته شوو کسانو را خوشي کول، له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې غزه به په راتلونکي کې (د صهیونیستي رژیم لپاره) ګواښ نه وي او خپلو کورونو ته د شمال د اوسېدونکو خوندي راستنول». هغه زیاته کړه: «له دغو مواردو څخه درې یې له یوه ټکي، یعنې فلاډلفیا محور څخه، د تحقق وړ دي». نتنیاهو دغه راز اشاره وکړه چې دا محور «د حماس د اکسیجن او وسلو سرچینه» ده او زیاته یې کړه: «ځکه خو (صهیونیستان) باید دا سیمه کنټرول کړي».

**دویم:** ایا امریکا د دوه دولتونو په حل‌لاره کې جدي ده؟

1. هغه طرحه چې امریکا یې د دوه دولتونو د حل لپاره وړاندې کوي او د اسلامي خاورو د خاینو حکامو په  مرسته یې تبلیغوي، په واقعیت کې یوازې یو فریب او د الفاظو لوبه ده. دا طرحه تر ډېره د یوې فلسطینی اداري لپاره ده، نه د فلسطینیانو لپاره د یو واقعي دولت لپاره. د امریکا ولسمشر جوبایډین د جمعې په ماښام خبریالانو ته وویل چې د دوه دولتونو د حل لپاره مختلف موډلونه شته او په ملګرو ملتونو کې یې ځینو شاملو هېوادونو ته اشاره وکړه چې خاص وسله‌وال ځواکونه نه لري. (سرچینه: الجزیره، ۲۰۲۴/۱/۴) دا له مسلحو ځواکونو پرته موډلونو ته د اشارې په معناده! خو هغه دولت چې د نورو دولتونو په څېر واقعي حاکمیت ولري، د صهیونیستي رژیم لخوا ردېږي.

الجزیرې په ۲۰۲۴/۷/۱۸ نېټه راپور ورکړ چې د اسرایلو کنسټ (پارلمان) د چهار شنبې په ماښام په خپل تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د فلسطیني دولت د تشکیل د رد تصمیم ونیوه. هغوی ښه پوهېږي چې امریکا یې هیڅکله له ملاتړه لاس نه اخلي؛ ځکه دغه رژیم د امریکا تولید او د اسلامي نړۍ په زړه کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د امریکا پرمختللې اډه ده. ولسمشر بایډن په

شخصي ډول صهيونستي رژيم ته نږدې دی او ځان صهيونست بولي او د ديني باورونو لرونکی دی چې هغه له دغه رژيم څخه دفاع ته هڅوي.د بهرنيو چارو وزير يې، بلينکن، چې د دولت له کليدي افرادو څخه دی اعلان کړه چې د خپل يهودي‌والي په دليل له صهيونستي رژيم څخه دفاع کوي. حتا د ولسمشر مرستيالې، کامالا هريس، له يهوديانو سره په يوه غونډه کې خپل مېړه د يهودي په صفت معرفي کړ تر څو له يهودي دولت او يهودانو څخه د بايډن د دولت ملاتړ وښيي او دا چې که د هغه مرستياله ولسمشرۍ ته ورسېږي، نو له يهودو څخه د ملاتړ سياست ته به دوام ورکړي. که ټرمپ بريالی شي، هغه به هم له يهودانو او صهيونستي رژيم څخه ملاتړ ته دوام ورکړي او له ډيموکراټانو به هم په دې برخه کې ځان مخکې کړي. په همدې دليل صهيونستي رژيم په دغو حمايتونو تکيه کوي او خپلو جنايتونو ته ادامه ورکوي.

2. يوه بله موضوع چې بايد د دوه دولتونو د طرحې په اړه څرګنده شي، په لاندې دول ده:

الف) فلسطين مبارکه اسلامي خاوره او د مسجد الاقصی خاوره ده چې الله سبحانه و تعالی برکتي کړې ده:

**﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ﴾** [اسراء: 1]

***ژباړه:*** *پاکي ده هغه ذات لره چې خپل بنده يې په شپه کې له مسجد الحرام څخه مسجد الاقصی ته بوتللو (هغه مسجد چې) د هغه شاوخوا سيمه مو برکتي کړې ده.*

د دوو دلتونو دغه طرحه چې دغه حاکمان ورته مخه کوي، له الله سبحانه و تعالی، رسول الله صلی الله عليه وسلم او مومنانو سره خيانت دی. اسلامي خاوره دا ويش ـ چې دغه خاوره دې د خاورې د خلکو او د دوی د دښمنانو تر منځ وويشل شي ـ نه مني. پر دغې خاورې د يهودانو ولکه ناسمه ده او په دغه خاوره کې د دوه دولتونو طرحه ځای نه لري. څه ډول چې عمر بن خطاب رضي الله عنه دغه خاوره فتحه کړه، راشده خلفاوو وساتله، صلاح الدين ايوبي رحمه الله ازاده کړه او عبد الحميد د يهودانو پر وړاندې د هغې ساتنه وکړه، دغه خاوره به د الهي لښکر په صادقانه هڅو بيا ازاده شي او خپل اصلي حالت ته به را وګرځي.

ب) د دوه دولتونو طرحې په اړه شرعي حکم دا دی چې حتا که چېرې دغه طرحه فلسطينيانو ته د دولت د ورکړې په معنا هم وي ـ چې د ۱۹٦۷ د حدودو مطابق د فلسطين يوه برخه يعنې د فلسطين د خاورې ۲۰ سلنه فلسطينيانو ته ورکړل شي او له ۸۰ سلنه خاورې څخه تېرېدل ورسره ومنل شي ـ بيا هم دا طرحه سترګه ګناه او له الله سبحانه و تعالی، رسول الله صلی الله عليه وسلم او مومنانو سره خيانت دی. په داسې حال کې چې که له دغې اندازې څخه لږ څه طرحه شي، لکه دا چې د فلسطينۍ ادارې وړانديز وشي، نو دا خو په مراتبو لوی خيانت او ستر جرم ګڼل کېږي چې ترسره کوونکی به يې په دنيا کې له ذلت او شرمندګۍ او په اخرت کې له سخت عذاب سره مخامخ شي:

**﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ﴾** [انعام: 124]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې د ګناهونو او جرمونو مرتکب شوي دي ډېر ژر به دوی (په دنيا کې) د الله تعالی لخوا له ذلت او (په اخرت کې) له شديد عذاب سره مخ شي، د دوی د هغو مکرونو په سبب چې کول يې.*

**درېيم**: څنګه کولی شو دغه تجاوز ته د پای ټکی کېږدو او فلسطين په بشپړ ډول بېرته خپل اهل ته را وګرځوو:

1. دا موضوع په اسلام کې بشپړه روښانه ده. که کفار له اسلامي خاورو څخه پر کومه خاوره برید وکړي، هغه اشغال کړي او خلک یې ترې وباسي، نو واجب ده چې له دښمن سره په شدت وجنګېږو، تر څو هغوی ترې په زور بېرته وشړو او هغه خاوره بېرته خپلو خلکو ته را وګرځوو. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿**وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ**﴾ [بقره: 191]

***ژباړه:*** *هغوی چې هر چېرې ومومی وېې وژنی او هغوی له هغه ځای څخه وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یاست.*

همدا شان فرمايي:

﴿**فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ**﴾ [انفال: 57]

***ژباړه:*** *که له دوی سره د جګړې په ډګر کې مخامخ شې نو داسې سخت ګوزار پرې وکړه چې د دوی تر شا ډلګی یې هم وپاشل شي، ښايي په دې سره پند واخلي.*

حتا که پر اسلامي خاورې ـ پرته له دې چې هغه اشغال شي ـ برید وشي، نو باید د تېري ځواب یې ورکړل شي:

﴿**فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ**﴾ [بقره: 194]

***ژباړه:*** *چا چې پر تاسو تېری وکړ، نو تاسو هم پر هغوی دومره تېری وکړئ څومره یې چې پر تاسو تېری کړی وي او له الله تعالی څخه تقوا غوره کړئ او پوه شئ چې الله تعالی د متقیانو ملګری دی.*

د اشغال شوو اسلامي خاورو بېرته را ګرځول او له متجاوزو سره مقابله هغه مسایل دي چې هر عاقل ته څرګند دي او په قران، د رسول الله صلی الله علیه په سنتو او د اصحابو په اجماع کې په پوره وضاحت سره بیان شوي دي.

پر دې سربېره، صهیونیستي رژیم په یوازې ځان د درېدو توان نه لري او له بهرني ملاتړ پرته د جګړې وړتیا نه لري. لکه الله سبحانه و تعالی چې فرمايي:

﴿**ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ**﴾ [آل عمران: 112]

***ژباړه:*** *پر دوی د خوارۍ او ذلت مهر وهل شوی دی هر چېرې چې وي، مګر له الله سره په اړیکه (چې پر خپلو ناسمو کړنو او تګلارو تجدید نظر وکړي او الله یې مرسته وکړي) او یا له خلکو سره په اړیکو (چې دا او هغه یې لاتړ وکړي).*

دغه رژیم له الله تعالی سره خپل میثاق مات کړی دی او د هغه رسۍ یې پرې کړې ده او یوازې د امریکا، اروپا او اسلامي خاورو د خاینو حکامو د ملاتړ پر رسۍ متکي دی، د اسلامي خاورو هغه خاین حکام چې د صهیونیستي رژیم د وحشي تېریو پر وړاندې هیڅ ګام نه پورته کوي او حتا په دې کې هغه تر ټولو غوره یې یوازې د شهیدانو او ټپیانو شمېرلو ته ناست دي.

2. صهیونیستي رژیم په هیڅ ډول د مبارزې او بریالي کېدو وړتیا نه لري. لکه څه ډول چې الله سبحانه و تعالی په قرآن کریم کې فرمايي:

﴿**لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ**﴾ [آل عمران: 111]

***ژباړه:** دوی هیڅکله له کوچنۍ زیان پرته (لوی) زیان تاسو ته نه شي رسولی او که دوی له تاسو سره جګړه کوي، نو شا درته اړوي او تېښته غوره کوي، چې بیا د دوی مرسته او ملاتړ نه کېږي.*

لکه چې وینو مومنې ډلې د صهیونیستي رژیم په پرتله په خورا لږو تجهیزاتو او کم شمېر سره د هغوی پر وړاندې جنګېږي، خو له دې سره هم صهیونیستي رژیم په دې نه دی توانېدلی چې بریا خپله کړي. نو که چېرې د مسلمانانو پوځونه، حتا د فلسطین د ګاونډیو اسلامي خاورو لښکرې د جګړې ډګر ته را ودانګي، نو صهیونیستي رژیم به په بشپړ ډول له منځه لاړ شي.

خو اصلي ستونزه په اوسنیو اسلامي هېوادونو کې ده؛ چېرې چې حکام یې په استعمارګرو کفارو او د اسلام او مسلمانانو په دښمنانو پورې تړلي دي. دغه حکام سره له دې چې د صهیونیستي رژیم د جنایاتو په اړه هر څه په سترګو ویني او په غوږونو یې اوري، خو داسې دي لکه نه چې څه ویني او نه یې اوري، لکه الله سبحانه و تعالی چې په قران کریم کې فرمایلي دي:

﴿**صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ**﴾ [بقره: 18]

***ترجمه:** دوی کاڼه، ګونګیان او ړانده دي، نو دوی ( داسې دي لکه په هیڅ چې نه پوهېږي او د حق لور ته) نه راګرځي.*

د مسلمانانو ستونزه د دوی په حکامو کې ده چې تر ننه پورې د لښکرو مانع شوي دي چې په غزه کې د خپلو ورونو مرستې ته ور ودانګي. په داسې حال کې چې د شهیدانو شمېر ۴۱ زره او د ټپیانو شمېر ۹۵ زره تنو ته رسېدلی، حکام یوازې تماشه‌چیان دي او یو شمېر یې حتا یوازې د مړو او ټپیانو شمېرنه کوي او انګېرل کېږي چې همدوی صهیونیستي رژیم ته تر بل هر اړخ ډېر نږدې دي.

**څلورم:** خپلې خبرې په دوو ټکو پای ته رسوم؛ د هغه چا لپاره چې حق منونکی زړه او اورېدونکي غوږونه لري:

1. د ۲۲/۳/۲۰۲۴ د پوښتنې په ځواب کې مو ویلي وو: «دا معلومه ده چې د برېتانیا د بهرنیو چارو د وزیر بالفور وعده چې په خپل لیک کې یې لرډ روټ شیلډ ته په ۱۹۱۷/۱۱/۲ کې ورکړې وه، په فلسطین کې د یهودانو لپاره د ملي دولت له جوړېدو څخه د برېتانیا تایید ته شامله وه. دغه وعده د ځینو عرب او ترک اشخاصو د خیانت په پایله کې په دویمه نړیواله جګړه کې د عثماني خلافت د ماتې په وروستیو ورځو کې ورکړل شوه. تر دې وړاندې څو کاله مخکې د صهیونیستي ټولنو استازی هرټزل چې برېتانیا یې ملاتړ کاوه، په ۱۹۰۱/۵/۱۸ نېټه عثماني خلیفه ته وړاندیز وکړ چې دوی به د خلافت د مالي بحران په حل کې مرسته وکړي او د بودجې د کسر د پوره کولو لپاره به له خلافت دولت سره په لویه کچه مالي مرسته وکړي، خو په بدل کې یې دې دوی ته په فلسطین کې ځمکه ورکړل شي. خو هرټزل ته د خلیفه عبد الحمید ثاني ځواب خورا قوي او حکیمانه ځواب و: **"زه د فلسطین یوه لوېشت خاوره هم چا ته نه شم ورکولی، دا ځمکه زما ملکیت نه دی؛ بلکې د اسلامي امت ملکیت دی. زموږ خلکو د دغې خاورې لپاره جګړه کړې او هغه یې په خپلې وینې خړوبه کړې ده. یهودان دې خپلې پیسې له ځان سره وساتي، که کومه ورځ خلافت ټوټه ټوټه شو، هغه وخت بیا کولی شي چې فلسطین وړیا واخلي؛ خو تر څو چې زه ژوندی یم، دا کار ناشونی دی."** خلیفه درک، بصیر او لرلید درلود او په (۱۳۴۲ هـ - ۱۹۲۴ م) کې د خلافت لغوه د دې باعث شوه چې فلسطین له بدیل پرته په وړیا ډول یهودانو ته ورکړل شو! او د خلیفه عبد الحمید رحمه الله وړاندوینه ریښتیا شوه؛ ځکه د خلافت لغوه په فلسطین کې د یهودي رژیم د ایجاد لپاره واقعي مقدمه شوه.»

نن ورځ سره له دې چې د اسلامي خاورو خاین حکام د استعمارگرو کفارو پیروي کوي او سره له دې چې دوی له فلسطین سره خیانت کوي، هغه مبارکه خاوره چې مسجد الاقصی پکې دی، هغه ځای چې شاوخوا یې الله تعالی برکتي کړې ده؛ دغه خاینان به له منځه لاړ شي او اسلامي دولت (دویم راشده خلافت) به د الله سبحانه و تعالی په اراده بېرته را وګرځي. له یهودانو سره جګړه او د فلسطین د خاورې اشغال به د الله تعالی په اراده محقق شي؛ څکه صادق او رېښتیني پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه حدیث کې چې امام احمد له حذیفه رضي الله عنه څخه نقل کړی دی، فرمایلي دي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»،**

***ژباړه:*** *... بیا به د نبوت پر مهج خلافت راشي.*

همدا شان بخاري له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«تُقَاتِلُكُمْ الْيَهُودُ فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ»**

***ژباړه:*** *یهودان به له تاسو سره وجنګېږي او تاسو به پر هغوی برلاسي شئ.*

او همدغه راز مسلم په مشابه لفظ له ابن عمر رضي الله عنه څخه په روایت نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ»**

**ژباړه:**تاسو به خامخا له یهودو سره وجنګېږئ او خامخا به هغوی ووژنئ.

څمکه به یو ځل بیا د الله سبحانه و تعالی د دین په بریا سره روښانه شي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (4) بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾** [روم: 4_5]

***ژباړه:*** *په هغه ورځ به مسلمانان خوشاله شي. د الله تعالی په نصرت سره. الله چې هر چا ته د نصرت اراده وکړي، د هغه مرسته او نصرت کوي او هغه (پر کافرانو او دښمنانو) برلاسی او (پر خپلو دوستانو او مومنانو) مهربانه ذات دی.*

**1 ربیع الاول ۱۴۴۶هـ**.ق.

**۲۰۲۴/۹/۴م.**

**ژباړه: یما افغان**